مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۲۱

کار او تفریح

یو ملګری مي امریکا ته د زده کړې لپاره تللی و. هغه وویل چې د امریکا خلك په اوونۍ کې پینځه ورځې سخت کار کوي؛ خو د اوونۍ د پای دوو ورځو رخصتیو کې څه یې چې ګټلي وي، مصرفوي یې. دغه دوه ورځې په تفریح او ساتیرۍ کې تېروي، د سمندر غاړې ته ورځي، نایټ کلب، پارك او نور تفریح ځایونه ګوري.

د ملګري کیسې راته یوه ټوکه رایاده کړه. وایي د امیر عبدالرحمن خان په پاچاهۍ کې یو ټوکي شاعر د دنیا په چکر ووت، اروپایي ملکونه یې وکتل، بیا ترکیې، عراق او ایران ته ولاړ او بېرته هېواد ته راستون شو. امیر چې یې له راتګه خبر شو، دربار ته یې وروغوښت، چې د خپل سفر کیسه وکړي. هغه وویل: امیر صاحب! اروپا ته چې ولاړم، عجیبه ګډوډي وه، خلکو د شپې هم په کارونو لګیا وو د ورځې هم. والله چې هماغلته مي د شکر سجده پر ځای کړه، چې د امیر صاحب په برکت زمونږ خلك بیخي هوسا دي. ترکیه او عراق او دغه نور ګاونډي ملکونه چې مي وکتل، خلکو به د ورځې کار کاوه او د شپې به ویده وو. بیا مي د خدای دربار ته شکر وکړ، چې د امیر صاحب سیورۍ دي له مونږه نه اخلي، مونږ څومره هوسا یو.

امیر وپوښت: څنګه هوسا؟

شاعر وویل: صاحب! ستاسو د امارت په برکت زمونږ خلك د ورځې هم ویده وي او د شپې هم خوبونه کوي.

زما یو ملګری د ماشومانو تکړه ډاکتر دی. هغه په ورځ کې دوولس دیارلس ساعته کار کوي، د شپې مطالعه هم کوي او سهار د ملا په اذان راویښېږي. ما چې هغه وکوت د ډېر لیاقت او استعداد تر څنګه یې یوه ستونزه هم لرله. د هغه سلوك له ناروغانو او د هغوی له پایوازانو سره نه و ښه، خپلو اولادونو سره یې هم معمولاً په ورین تندي خبرې نه کولې. پرله پسې بې دمې کار د سړي بدن او ذهن ستړیوي.

انسان که د خپل ژوند د پر مخ بېولو لپاره باید کار وکړي، د خپل جسمي او روحي روغتیا د ساتلو لپاره باید تفریح هم هېره نه کړي. په هر څه کې اعتدال ښه وي. د اکثرو هېوادونو د کار په قانون کې هر سړی په کال کې لږ تر لږه یوه میاشت د رخصتۍ حق لري، په دې رخصتۍ کې یې معاش پوره ورکول کېږي. په افغانستان کې هم پخوا د کار قانون، د هر کارکونکي لپاره په کال کې شل ورځې رخصتي منلې وه. البته پخوا به شخصي کمپنۍ ډېرې نه وې، اکثر خلکو به په دولتي موسسو کې کار کاوه؛ نو ټول حقونه به یې د دولت له خوا ورکول کېدل.

اوس چې شخصي کمپنۍ ډېرې شوي دي، د کارکونکو د حقونه مساله له پامه غورځول شوې ده. اکثر شخصي کمپنۍ نه خپلو کارکونکو ته د رخصتۍ حق ورکوي او نه یې د تقاعد په فکر کې ده.

په نورو ملکونو کې د کارکونکو د حقونو د خوندي کولو لپاره کارګري اتحادیې فعالې دي. زمونږ کارګرانو ته هم په کار دي، چې اتحادیې جوړې کړي او خپل حقونه ترلاسه کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ